افغانستان آزاد – آزاد افغانستان
AA-AA
چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم
afgazad@gmail.com www.afgazad.com
مسایل ایدیولوژیک Ideological

محمد هارون خپل شعشعي
۱۵ اکتبر ۲۰۱۱

# د
# علي محمد مُخلِص
# عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۵

### ۳۰- تَوَکُل ( د « ت » او « و» په زْوَر او د« ک » په پېښ) :

په اسلامي تصوف او عرفان کي، د تَوَکُل اصطلاح په پراخه توګه کارېږي . متصوفينو او عارفانو د تَوَکُل په باب بېلابېلي نظريي وړاندي کړي دي، چي ټولي د قرآني آيتو او نبوي حديثوپر محور را ګرزي . د ځينو په اند، د تَوَکُل مانا د اده ، چي د عرفان لاروی، له غيره زړه پرې کړي؛ او پر لوی څښتن بشپړ باور ولري . نه يوازي خپلي ټولي چاري پروردګار ته وسپاري ؛ بلکي د هغه ذات په خپلو ټولو کارونو او پرېکړو کي، مسبب الاسباب وګڼي؛ او هيڅکله په خپل زور او ځواک، پوهه او هوښياری، دولت او شتمنی غَرَه نه سي[۱] . ځيني وايي : تَوَکُل چاته د خپلو کارو او مقدراتو سپارل دي؛ لکه څنګه چي خدای تعالی د قرآن عظيم الشان د طلاق د سورې د دريم آيت (۶۵: ۳) په يوه برخه کي ارشاد کيي : « . . . ومن يتَوَکُل علی الله فهو حسبه ان الله بالغ امره . . . » ياني هر څوک، چي خپل کار ماته وسپاري، زه د هغه کار جوړوم .

تَوَکُل د ايمان ثمره ده . د هر چا، چي ايمان پوخ او پياوړی يي ( وي)، د هغه تَوَکُل هم سم يي . په بله ژبه، د الله سبحانه و تعالی پر هستی او يووالي باوري انسان په بشپړه توګه پوهيږي، چي الله ( ج) په هر څه پوه ؛ او پر هر څه واکمن دئ ؛ له بندګانو سره د هغه رحمت او عنايت د مور او پلار تر شفقت ډېر زيات او لوړ دئ . رېښتينی متَوَکُل پر دې خبره بشپړ ايمان لري، چي خدای د بندګانو پر رزق او روزی پوره قادر دئ؛ او هيڅکله په خپله ژمنه کي غولونه او تېرايستنه نه کيي .

تَوَکُل د زړه  او باطن کار دئ . په دې مانا چي که څوک ظاهراً کار وکړي یا نه؛  له دونیایي اسبابو سره اړېکي ولري یا نه، د هغه په تَوَکُل کي زیان او خلل نه پېښیږي . د تَوَکُل خاوند که طبیب ته ځي، باید په رښتیا سره  وپوهیږي، چي شفأ د خدای په لاس کي ده . دغه راز، که د کمي بلي اړتیا په نیت چیري وزي ، باید په دې پوه  سي، چي د حاجتو قاضي یا د ستونزو او کړاونو لیري کوونکی،  یوازي د لوی او بې شانه څښتن ذات دئ۲ .

د «انسان الکامل»  متبحر او متفکر لیکوال  -  شیخ عزیزالدین نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰هـ ق )  د تَوَکُل په باب د خپل په زړه پوري استدلال په لړ کي، یادونه کیي چي متَوَکُل باید هیڅکله  پر مال ، کِسب وکار او وسایلو تکیه و نه کړي، بلکي د الله فضل او کرم باید د هغه د هیلي او ایمان یوازنی سرچینه یي . د ده په اند، هغه څوک چي اولاد او کورنی لري، کولای سي په کار او کِسب لاس پوري کړي ؛ خو باید تر یوکلني نفقي ډېره زېرمه جوړه نه کړي . کار او دنده باید په حلاله وکړي . په دې مانا چي کم ور نه کړي؛ او  زیات وانخلي؛  له  الهي رحمت او شفقت څخه یوه شیبه هم مخ وا نړیږي . هر څړه  یا مجرد انسان هم باید د خوړو برابرولو دپاره کار وکړي؛ خو باید زیرمه یا ذخیره جوړه نه کړي . هر څه چي د ورځي پیداکیي ، ماښام یې باید وخوري . که یې د څو ورځو نه خوراک له امله، وجود ته زیان نه رسیږي؛ او د نورو خوړو ته هم هیله او انتظار و نه لري، نو داسي کس باید کار او کِسب و نه کړي .  دده کار فراغت او جمعیت دئ۳ . هغه کسان چي د خدای پر هستی او لویوالي  باور نه لري ، تل د اسبابو او وسایلو په باب سوچ کیي؛ او هر کله  چي یې په اسبابو او وسایلو کي ستونزه پېښه سي، بیا نو سرونه له ډاګه ډاګه وهي؛ او د زړه له کومي خپه یي .

عارفان  په دې باور دي، چي الله ( ج ) د  ټولو کایناتو، یوازنی او مُطلق واکمن دئ ؛ هرڅه دده په واک کي دي . که پراخوالی دئ که تنګوالی، که خیر دئ که شر، ټوله دده له خوا دي؛  لکه څنګه چي د زُخْرُف د سورې د دو دېرشم آیت ( ۴۳: ۳۲ )  په یوه  برخه  ( . . . نحن قسمنا بینهم معیشتهم فی الحیاة الدنیا . . . )کي راغلي دي . عرفاني سالکانو دغه راز، د قرآن مجید د بقرې د سورې  په دوه سوه شپاړسم ( ۲: ۲۱۶) آیت  ( . . . عسی ان تکرهوا شیاءً  وهو خیر لکم وعسی ان عحبو شیاءً و هو شر لکم   . . . ) کي د دې څرګند حقیقت په پوهېدو سره،  خپل هر څه حق ته سپارلي دئ ، چي وایي  انسان د ځان په خیر او شر نه پوهیږي . د خدای د لاري سرسپارلو دوستانو، د مؤ من د سورې د څلور څلوېښتم آیت ( ۴۰:۴۴ ) « . . . وفوض امری الی الله ان الله بصیر بالعباد »  له لارښوونو سره سم، په پوره  رضا او خوښی سره  خپله پوهه، تصرف  او اختیار ټول له منځه وړي دي .

د تَوَکُل  عرفاني مسأله د قرآن کریم په ډېرو آیتو کي په خورا تفصیل سره بیان سوی ده . د  توبې سو رې په یو سلو نه ویشتم (۹:۱۲۹)  آیت کي د اسلام  ستر پیغمبر، حضرت محمد ( ص ) ،  ته د تَوَکُل لارښوونه سوي ده : « . . . فقل حسبی الله لا اله هوعلیه تَوَکُلت . . . » یاني  ورته ووایه چي الله ( ج )  زما دپاره بس دئ؛ بېله ده بل خدای نه سته او پرده زما تَوَکُل دئ۴ . د زُمر د سورې په اته دېرشم آیت ( ۳۹:۳۸ ) کي د غه مطلب په دې ډول بیان سوئ دئ : « . . .  قل حسبی الله علیه یتَوَکُل المتَوَکُلون » یانی ورته ووایه، چي الله  زما دپاره کافي دئ؛ او د تَوَکُل څښتنان  پرده باور کیي. د مایدې د سورې د درویشتم آیت ( ۵: ۲۳ ) په یوه برخه کي، مؤمنانو ته پر خدای د تَوَکُل کولو امر سوئ دئ : « . . . وعلی الله فتَوَکُلو ان کنتم مؤمنین  » د آل عمران د سورې په یوسلو نه پینځوسم آیت ( . . . فتَوَکُل علی الله ان الله یحب المتَوَکُلین  ) کي، تَوَکُل کوونکي د الله تعالی دخوښو سووکسانو په توګه یاد سوي دي .

د تَوَکُل قرآني او عرفاني مسأله، د علي محمد مخلص په عارفانه کلام کي هم ، ډېر لوړ ځاى لري . هغه په يوه غزله کي، تَوَکُل له اغياروڅخه د ژغورني نتيجه بولي :

تَــوَکَل يې په خاطـــــر کي قرار ونيو
چي يې زړه له ماســوا فراغت بيـاموند
چي يې کاروبار خپل و سپاره وحق تــه
نن هغـــه له کاروباره فرصت بيـاموند

د همدې غزلي په يوه بل بيت کي، تَوَکُل د لوړ همته او مړني کس کار بولي :

مخلص، تَوکُل او د هغه ارزښتناکه ثمره، د هغه مؤمن برخه بولي، چي د توحيد مقام ته رسېدلئ يي :

اې مخـــلصه! تَوْکَل د توحيد پهل دئ
مــوحد له دغــه پهله لــذت بياموند
تَـوْکَل د لوی همت ښنتن اختيار که
کم همت سړي له کِسبه محنت بياموند

په بله غزله کي، تَوَکُل ته د پروردگار د لويي خزاني په سترګه ګوري :

قناعت ، تَوْکَل۵ لوی ګنج دئ که يې مومي !
فـــراغت به کـــړي حاصـــل له کسبه ونجه
تــوَکَل، قنـــاعـــت عـطأ د حــــق ده
په ډېر زر، لښـــــکر حاصل نشي له بنجه

**د نور مالومات دپاره وګورئ : پرهېزګاري، تسليم،** توبه، خوف او رجأ، شُکر، رضا، زهد او زاهد، صبر، عابد او عبادت، فقر، قناعت او داسي نور .

لمنليکونه

١ نيرومند محقق ٢٠- ٢١.
٢ نسفی، <u>الانسان الکامل</u> ٢٣٥ - ٢٣٦ .
٣ نسفی، <u>الانسان الکامل</u> ٢٣٩ .
۴ رزمجو٢٥٢.
۵ په عربي کي د« توکل » تکی همېشه دري سېلابه دئ . په پارسي کي يي زياتره د « ک » په زَوَر تلفظ کيي، چي هغه هم دري هجاوي ( تَ + وَ + کَل ) لري؛ خو په پښتو کي زياتره په دوه سپونه ( تَوْ + کَل) تلفظ کيږي .البته، په ځينو استثنايي حالاتو کي د پارسي په پيروی يا د عروضي اړتيا له مخي په دري سپونه ( تَ + وَ + کَل) هم تلفظ کيږي . په پښتو کي دا کليمه هيڅکله د عربي په شان د « ک » په پيښ، نه ويله کيږي .

## ٣١- جامِ جم :

په تصوفي او عرفاني آثاروکي د « جامِ جم » اصطلاح خورا ډېره کارسوی ده . د ځينو آريايي ټبره توکمود پخوانيو کيسو او نکلو له مخي، جامِ جم هغه پياله يا جام ؤ، چي د پېشدادي پاچا- يما يا جمشيد ( جمشيد

د پېشدادي کورنۍ لوی او پیاوړی پاچا ؤ، چي تر خپل ورور تهومرث وروسته پاچا سو؛ او په بلخ یا بخدي کي یې د مدني ژوند بنسټ کښېښود) په واک کي ؤ. پر دې جام د نړۍ نخشه انځور سوې وه؛ او کتوونکي به په هغه کي ټوله نړۍ لیدله . مسلمانان عقیده لري، چي سلېمان ( ع ) د جامِ جم څښتن ؤ؛ او په هغه کي یې د دونیا ټول نېک او بد کتل .

په تصوفي او عرفاني ادب کي د « جامِ جم » اصطلاح ، د کامل انسان یا کامل عارف د زړه په مانا کار سوې ده، چي د الهي انوارو د تجلا ځای دئ؛ او د یوې جهان نُما هینداري په څېر، ټول غیبي رازونه پکښې لیدل کیږي . د پارسي عرفاني ادب خوړ ژبی ستوری - لسان الغیب شاعر خواجه شمس الدین محمدحافظ شیرازي ( په ۷۹۱ هـ ق کي مړ) د « جام جم » په بیان کي داسي وایي :

« قصهٔ جامِ جم بسی شنوی
اندر آن بیش و کم بسی شنوی
به یقین دان که جامِ جم دل توست
مستقر سرور و غم دل توسـت ۱»

زموږ رسېدلئ عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم د نورو عرفاني شاعرانو او متفکرانو په څېر د « جامِ جم » اصطلاح د موحدعارف له زړه سره ورته ګڼي، چي د حق تعالی حرم، د باطني پوهي مرکز او د پټو اسرارو د پوهېدو هینداره ده . د ده په عرفاني نړۍلیدکي، دا زړه د خلیل تر کعبي لوړ او د ناپایه بحر په شان لوی او پراخ دئ . د هغه په یوه غزله کي داسي لولو :

زړه حرم د مولا یاد دئ په حدیث کښي
هر عارف چي په حرم د حق محـرم شي
د خلیل کعبه به واګذاري بې شـکه
دغـه زړه بې۲بېحد بحرِ اعظـم شي
درست جهان به په کښي ګوري باور وکړه !
دا لوی زړه بې په قطعي۳ جامِ جم شي

په یوه بله غزله کي بیا هم د کامل او ازاد عارف « جامِ جم » زړه د حقیقتو د کشف ضامن بولي :

حقیقت د هر اشیاء به په کښي ګوري
چي یي زړه شه په باطن کښي جامِ جم

**د نور مالومات دپاره وګورئ :** زړه ، روح، کامل شېخ ، کامل پیر یا کامل انسان ، ولي او ولایت، کامل او ازاد .

لمنلیکونه

۱ رزمجو ۱۹۳ .

۲ بې د « به یې » لنډه بڼه .

۳ په خطي نسخه کي : قطي

پاته لري